پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۳/۲۴

# د انجنیر سلطان‌جان کلیوال لومړی تلین




ژونــد کرائی کـور دی
تری به کـوچیړی یو وخت
تیــاری له اوس ونیســه!
===
مینه له پاسـه راځی
لکه باران له وریځو
خاوري ته ژوند ورکوی
===
یمه دی زړه ته حیران
هم پکی اوسی رحمان
هم پکی پروت دی شیطان
===
د خپل جوړښت له مخی
زړونه ټول یو ډول دي
خو، د مور زړه جدا دی
===
د اور نه کاڼي جوړ شي
کاڼی نه کور جوړ شي
یا ورنه جوړشي زړه
===



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

له اوبو ژوند پيدا شي
ژوند له خوندونو ډک وی
یا له  دردونـو ډک وی
===
آزاد او درونـد پيدا يم
نو پاغونـده ولی شم
د چا بنـده ولی شم؟
===
زه افغانی ګلاب يم
د خور اوربل ښکلوم
مور او کابل ښکلوم.
د پلار شملې ته ورځم
د ننګ ديرې ته ورځم
د ورور مورچې ته ورځم

سلطان‌جان کلیوال
جنوری/
۲۰۲۴/۳

د هېواد د حقداره علمي ـ فرهنګي شخصيت، ليکوال، شاعر، ژباړونکی او د لسګونو کتابونو مؤلف انجنير سلطان‌جان کليوال يو کال مخکې د ژونديو له کاروانه لار جلا کړه او په خپل ابدي ببلتون سره يې د خپلې کورنۍ، دوستانو او فرهنګيانو زړونه وداغل، دا غمځپلي زړونه لاتراوسه لاټکور شوي نه و، چې د کليوال لومړی تلين راورسيد.

په دې مقاله کې به د انجنير سلطان‌جان کليوال د لومړي تلين د درناوي په پار د ده د علمي ـ فرهنګي شخصيت په باب  څه یادونې او بیا به د ده د مړينې په پاره د ځينو قلموالو غمځپلو خاطراتو او هغو ياداشتونو يادونه وکړم چې د ده خداييبښلي تر خاورو ته سپارلو وروسته په ميډيا کې رابښکاره شوي دي.

د انجنير سلطان‌جان کليوال د ژوند سفر په ۱۹۵۰ ام میلادي کال په مارچ مياشت کې د افغانستان د ننګرهار ولايت د هسکې مینې ولسوالی په «کوټه والو» کلی کې پیل او د ۲۰۲۵ ام کال د مارچ مياشت کې د کانادا په تورنتو ښار کې پای‌ته‌ورسید.

یوکال مخکې چې د ده خدای‌بښلي د مړينې په پار ما چې کومه مقاله ليکلې وه، د هغې ليکنې په پيل کې داسي راغلي دي:

«دا دی بیا د فلک خوني منګولي زموږ د فرهنګ د بڼ پرخوا راوړدي شوې او زموږ د فرهنګ يو بل ګل يې ورژاوه. په میډیا کې ډېرفعال، د افغان جرمن پورتال قلمي همکار، شاعر، ليکوال، ژباړن او د ګنشمېر کتابونو مؤلف، انجنير سلطان‌جان کليوال يې د تل له پاره له موږ نه بېل کړ.»

**د سلطان‌جان کليوال د فرهنګي فعاليتونو لنډجاج:**

کليوال ډک زړه او له ډېرو ناويلو او ناليکلو خبرو سره وکوچيد، خو که د ده علمي فرهنګي ژوند ته په ځير سره وګورو، له ده نه په ليکلې بڼه د ده د اثار, په قالب کې لوی فرهنګي ميراث راپاتې دی.

له انجنيرسلطان‌جان کليوال د راپاتي اثارو لست په لاندي ډول دی:«

۱ ـ تغمي (د شعری ټولګه) ۱۳۶۹ کال د ليکوالو د انجمن چاپ ـ کابل،

۲ ـ درونـد کور درنې خبرې ۱۳۷۸ کال د ننګرهار د فرهنګي ټولنې چاپ ـ پيښور،

۳ ـ وختونه اوغمونه (شعری ټولګه) ۱۳۹۱ کال چاپ،

۴ ـ د ځپو پر سر(شعری ټولګه) ۱۳۹۱ کال چاپ،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

۵ ــ زما خاوره زما مینه (شعری ټولګه) ۱۳۹۱ کال چاپ،

۶ ــ رازونه او رمزونه (شعری ټولګه)۱۳۹۱ کال چاپ،

۷ ــ د عمر خیام د رباعیاتو پښتو ژباړه ۱۳۹۱ کال چاپ،

۸ ــ د نومیالیو په لړ کې ( د شهید زرغون شاه ماما ژوند لیک) ۱۳۹۱ کال چاپ،

یادونه: له دریمې شمارې څخه تر نهمې شمارې پورې اثار د ګودر خپرندویې ټولنې له خوا شویدی.

مسلـکی لیکنې:

۹ ــ د جیالوجیکی اصطلاحاتو تشریحی قاموس ۱۳۹۱ کال چاپ،

۱۰ د څلورمې دورې د رسوباتو جیالوجیکې څیړنې ( ګستتنرې چاپ) د کانو او جیالوجی اداره،

۱۱ــ د هوایی عکسونو تعبیر او تفسیر(ګستتنرې چاپ)، یاده شوې اداره،

چاپ ته تیار اثار:

۱ ــ پښتو ــ دری ــ انګلیسی ډکشنرې،

۲ ــ د کلچر له مخې انسان پیژندنه،

۳ ــ اخلاقي ارزښتونه.»

له پاسنیو اثارو نه علاوه یې په ویبسایټونو کې ګڼشمېر مقالې، شعرونه او ژباړې خپرې شوې دي چې یوازې په«افغان جرمن پورتال» کې ۵۱۰ مطلبه د ده په ځانګړي ارشیف کې خوندي دي.

مطالب نشر شده از **سلطان جان کلیوال** در پورتال افغان جرمن آنلاین:

510) خیبره بختوره
509) لیـــونـي
508) درنه پېښه
507) ماشومانه اندیښنې
506) بدله څېره
505) لاره
504) اخـــتر
503) عـقـیـده
502) دې کال کې
501) لویه سیاسي تېروتنه
500) زنځـیر
499) د سپوږمۍ ننداره
498) هایکو
497) د جاپانۍ ژبې د هایکویي شعر په پیروي
496) بنـیـاد
495) زخـمي
494) شــاعـري
493) د طالبانو د حکومت په مخ کې پرتې ستونزې به څنګه حل شي؟
492) بیا هم کال نوی کېږي
491) یـووالي
490) لانـجـــه
489) کمـزوري
488) د هرات غم – ملي ماتم



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ما یوکال مخکې د ده د علمي ــ فرهنګي شخصیت په باب یوه مفصله مقاله خپره کړې ده،

په هغې مقالې کې ما د کلیوال د علمي ــ فرهنګي فعالیتونه په لاندې برخو ویشلي وو:

«ښاغلي کلیوال د خپل علمي ــ فرهنګي ژوند په اوږدو کې د علم او فرهنګ په ځوبرخو کې ګڼې مقالې، شعرونه او کتابونه په میراث پرېښي دي. زه د سلطانجان کلیوال علمي ــ فرهنګي کارونه په لاندې برخو ویشم:

**الف: مسلکي لیکنې،**

**ب: د تخلیق په برخه کې،**

**ج: سیاسي لیکنې،**

**د: ټولنیزې لیکنې،**

**هـ ــ د قاموس لیکنې په برخه کې،**

**و : د سلطانجان کلیوال ژباړې.»**

د کلیوال تر تدفین وروسته، د ده د علمي ــ فرهنګي شخصیت په باب ځینو قلموالو خپل تاثرات خپاره کړل چې زه د لته د کلیوال د لومړي تلین د درناوي په پار د دوو قلموالو نظریات رااخلم:

**ډاکټر یارمحمد ترهکی:**

ډاکټر یارمحمد ترهکي د کلیوال تر خښېدو څوورځې وروسته، د ده د صخیت په باب داسې ولیکل:

«... کلیوال هم چې د ژوند کړ لیچونه یې لیدلی وو ددی ښار د خلکو په مینځ کی د ځینو سپکی سپوری هم واوریدلی خو هغه ورته ټینګ شو. ځکه دادده ښار او هستوګنځی وو.د تورنتو د ښار د افغانانو ټولنیز او اقتصادی وضعیت هم په بدلیدو شو. د روښانه او متخصصو افغانان شمیر زیات شو. ځینی ځوانو افغانانو زده کړی وکړی. ځینی ډاکتران شول، ځینی وکیلان شول او ځینی انجینیران. د متعصبواو کم سوادو تنظیمی مجاهدینو شمیر مخ په کمیدو شو. د افغانانو ټولنیز انډول ربنتیا هم چې بدل شو. خو په دی پنځه ویشتو کلونو کی کلیوال لکه ونه مستقیم په خپل مکان وو.

داسی ټولنیزه غونډه، داسی فاتحه داسی ملی ورځ نه وه چې هغه به یی په نمانځغونډي کی نه وو. د څو ټولنیزو اتحادیو د مشرتابه غړی شو. په ډیرو غونډو کی به یی د خپل ځان او د خپلو ملګرو د صداقت، د وطن لپاره د هوډ او د اشتباهاتو په باب خبری کولی. څو څو واری یی خپلو هغو هیوادوالو ته چې یو وخت به د هغوی له خواه زوریدلو د مینی، تحمل او احترام خبری کولی. ډیر وختونه به یی د وطن څخه د لیری والی ژړا په شعرکی کوله...

کلیوال هم چې د ژوند کړ لیچونه یې لیدلی وو ددی ښار د خلکو په مینځ کی د ځینو سپکی سپوری هم واوریدلی خو هغه ورته ټینګ شو. ځکه دادده ښار او هستوګنځی وو.د تورنتو د ښار د افغانانو ټولنیز او اقتصادی وضعیت هم په بدلیدو شو. د روښانه او متخصصو افغانان شمیر زیات شو. ځینی ځوانو افغانانو زده کړی وکړی. ځینی ډاکتران شول، ځینی وکیلان شول او ځینی انجینیران. د متعصبواو کم سوادو تنظیمی مجاهدینو شمیر مخ په کمیدو شو. د افغانانو ټولنیز انډول ربنتیا هم چې بدل شو. خو په دی پنځه ویشتو کلونو کی کلیوال لکه ونه مستقیم په خپل مکان وو.

کلیوال د خبری ، علم، کره کتنی او منطق شخصیت وو. داسی شخصیت چې د اغیارو په تعنو او تورونو خاموشه نشو. دده ژبه او دریځ دومره روښانه وو چې د مخالفینو د ژبی زور نه روباندی رسیدلو. څرنګه چې دلته هغه د وطن ټوپک او د برچې زور نه چلیږی نود کلیوال د ژبی او قلم توره پر ټولو تیره وه.

په حقیقت کی دا کلیوال وو چې ما ته یی د مبارزی او هڅی، د دوام زیری پنځه ویشت کاله دمخه راکړ. ده راته وښودل چې خپله خبره او خپل کتنه باید په هر چاپیریال کی ولیکو او ووایو.
کلیوال د افغانی ټولنې په یوه منل شوی شخصیت واوښت. هغه د هری میلمیستیا او باندار تر ټولودروند شخصیت وو. دده نرۍ لید، د هیواد سره مینه اوخلکو ته د تیروتربګلویو د بخښنی او یو بل ته د مینی او محبت لاس ورکول فکر او کره وره په کاناډا کی افغانی ټولنه مجذوبه کړه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سلطان جان کلیوال نور زمونږ په مینځ کی نشته. خو دده د نیمی پیړی سیاسی مبارزه، د هیواد په ګټه مسلکی کار ، فرهنګی هڅي او په تیره بیا د افغانانو په ټولنی کی دده د پنځو ویشت کلونو هڅو او استقامت مونږ ته یو درس راکوی او هغه دادی چې اصیل انسان په سکروټو او ایرو کی هم نه ورکیږی.
ځای دی سخته تش دی مشر ملګری سلطان جان کلیوال.»

**عصمت قانع:**

دخوشحال قدر که اوس په هیچا نشته
پس له مرګه به يي ياد کا ډیر عالم
داروا ښاد کلیوال دبیلتون نن دربمه وه خو پرما دري کاله تېر شول چي داوښکو ديګ مي دخپلو هډوکو پر اور اېښی دی او ويني مي په کې ايشي
هيڅوک نشته چي غمرازي مي وکړي
هيڅوک نه لرم چي راته ووايي خو درب رضاده
په ژوند کي كله كله ياران داسي موقعيت اختيار کړي چي ستا نږدي خپلوان زامن لوني او دکور نور غړي يي ځای نه شي ډکولای
سلطان جان كليوال زما دوطنپرستی دخانقا پيران پير وو
او زه اوس يو بي پيره مريد يم
كله كله بي پيره مريدي هم غميزه وي
او زه يوه عجيبه غميزه تجربه كوم
دکلیوال اروا ته ګلونه او درودونه

په پای کي به د يوکال مخکي دوعايه دلته هم وليکم:

**ښاغلی انجنیر سلطان جان کلیوال دې خدای وبخښي،**
**کورنۍ، دوستانو، مینه‌والو او د افغانستان**
**د فرهنګ د لویي کورنی ټولو غړو**
**ته د تسلیت مراتب وړاندې کوم.**

**اناالله و انااليه راجعون**

د ليکوال نوري ليکني په لاندي لينک کي لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ